# د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختیا
# د فعالیت کتاب
## د والدینو لارښود

د نوښت د پراختیا ریاست

د لوستلو اټکلي وخت: ۳۰ دقیقې

# د محتوياتو جدول

## د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا

1.د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) څه ته وايي؟

2.د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) ولې ارزښت لري؟

3.د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) او د لوبې پر بنسټ زده کړه.

## د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) د فعاليت کتاب

1. د ماشوم د ابتدايي دورې د پراختيا د فعاليت کتاب برخې

   1.1 پرمختګ د څارنې وسيله

   1.2 د فعاليت پاڼې

   1.3 نمونه يي توکي (سرچينې)

   1.4 د سر ته رسولو تصديقپاڼه

## د والدينو لارښودونونه

1.   زده کړه ييزې لاسته راوړنې
2.   د فعاليت لارښودونه
3.   د والدينو ذهنيت



# 1. د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) څه ته وايي؟

په ابتدايي کلونو کې، د کوچنيانو ماغزه په تر ټولو چټکې شرحې سره نوې اړيکې جوړوي. راځئ چې ځينو شمېرو باندې نظر واچوو.

| | | |
|---|---|---|
| **١٥ دقيقې** لوبه ستاسي د ماشوم په ماغزو کې په زرګونه اړيکې تحريکولای شي. | تر **٧٥ سلنه** هر ډول خواړه ستاسي د ماشوم د ماغزو د جوړولو لپاره کارېږي. | ستاسي د ماشوم تر **٨٠ سلنه** ډېر ماغزه تر ٣ کلنۍ پورې جوړېږي. |

سرچينه: *https://www.unicef.org/early-childhood-development*



**د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا** پروګرامونه تر ٣ کلونو عمر درلودونکو ماشومانو پر زده کړه يېز ملاتړ، مخکې له دې چې هغوی په رسمي زده کړو پيل وکړي، څرخي.

د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختیا

# 2. د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختیا (ECD) ولې ارزښت لري؟

د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختیا د ماشومانو د زده کړې کولو او په ښوونځي او ژوند کې د بریالي کېدو ورتیا باندې اوږدمهاله اغېزه لري. د ژوندانه د لومړنیو څو کلونو د تجربو کیفیت – که مثبت وي که منفي – د هغوی د ماغزو د وده کولو څرنګوالی تشکیلوي.

### د ماشومتوب د ابتدايي د دورې زده کړه په لاندینو چارو کې مرسته کوي:



حرکي او حسي مهارتونه وده کوي.



د زده کړې لپاره لېوالتیا منځته راځي.



په راتلونکي کې مثمریت پیاوړی کېږي.



ټولنیز مهارتونه وده کوي.



د ژبې او د کلمو زېرمې مهارتونه پیاوړي کېږي.



د خلاقیت او تصور مهارتونه منځته راځي.

# 3. د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا (ECD) او د لوبې پر بنسټ زده کړه

لوبه يو له هغه تر ټولو مهمو طريقو څخه ده چې په ترڅ کې يې واړه ماشومان اړينه پوهه او مهارتونه لاسته راوړي. د پوهنه تر هر څه پورته (EAA) سازمان **د ماشومتوب د ابتدايي دورې د فعاليت کتاب** د هغه لوبو/فعاليتونو يوه ټولګه ده چې تاسې يې له خپل بچي سره کولای شئ چې د ډيزاينولو موخه يې دا ده:

### انټرنېټ ته اړتيا نه لري

د کور استعمال ساده توکي کاروي او انټرنېټ يا ټيکنالوجۍ ته اړتيا نه لري.

### بامعنا دي

له ماشومانو سره مرسته کوي چې د نړۍ په هکله شعور ولري او د مهارت-جوړونې لپاره بنسټ ړدي.



### په فعاله توګه ښکېلوونکي دي

د فزيکي، شفاهي، او ذهني بوختيا يو ګډ ترکيب وړاندې کوي.

### خوشحالوونکي دي

د هيجان، خوند او هڅونې ستر احساس ورکوي.

### له ټولنيز پلوه تعاملي دي

ماشومان د خپلو مفکورو د بيانولو او د خپلو کورنيو له غړو سره د ژورو اړيکو جوړولو ته هڅوي.

### تکراري دي

ماشومانو ته له هر ځل تکرار سره د مهارتونو د تمرين، د امکاناتو د ازمايلو او د نويو ننګونو کشفولو فرصت ورکوي.

د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا د فعاليت کتاب

# د ماشومتوب د ابتدايي دورې د فعاليت کتاب برخې

## د ماشومتوب د ابتدايي دورې د فعاليت کتاب دا برخې لري:

### د فعاليت پاڼې







### د پرمختګ د څارنې وسيله


education above all

کله چې تاسې يو فعاليت سرته ورسوئ په اړونده صندوق کې د (✓) نښه کېږدئ

| | فعاليت | يو ځل ترسره شوی | ۲ تر ۴ ځلې | تر ۵ زيات ځلې |
|---|---|---|---|---|
| 1 | ودانيز بلاکونه جوړول | | | |
| 2 | د کيسې وخت | | | |
| 3 | سندرې ويل | | | |
| 4 | د توکو موندنه | | | |
| 5 | د غبر انګازې لوبه | | | |
| 6 | په انځورونو بحث کول | | | |
| 7 | منظمې نمونې | | | |
| 8 | فلش کارتونه | | | |
| 9 | د کيسې تسلسل ترتيبول | | | |
| 10 | د مطابقت ورکولو لوبه | | | |
| 11 | د کيسې کڅوره | | | |
| 12 | د حافظې لوبه | | | |
| 13 | د قافيې کڅوره | | | |
| 14 | د کردار تمثيلول | | | |
| 15 | د شيانو طبقه بندي کول | | | |

### نمونه يي توکي (سرچينې)







### د سر ته رسونې تصديقپاڼه



# 1. د پرمختګ د څارنې وسیله

تکرار د زده کړې لومړی اصل دی. دا ماشوم ته د یوه مهارت یا د پوهې د یوې برخې د تمرین فرصتونه ورکوي.

دا پوهېدنه چې د څه شي تمه باید وکړل شي، او په یوه منظمې طریقې سره د کارونو ترسره کول:

- له ماشومانو سره دا پوهېدنه کې مرسته کوي چې **د څه شي تمه وکړي** او **ځان آرام احساس کړي.**
- **تمرکز** او **ځاني نظم (ډسپلین)** هڅوي چې د زده کړې لپاره اړین دی.
- د وخت په تېرېدو سره یو مهارت لا ډېر اسانه کوي

**فعالیتونه په ۲ – ۳ ورځو دمو سره تکرار کړئ.** وښاروئ چې تاسې له دې څارونکي/تعقیبي وسیلې څخه په ګټه اخیستلو سره څو کرتې یو فعالیت تکرار‌وئ.

کله چې تاسې یو فعالیت سرته ورسوئ
په اړونده صندوق کې د (✓) نښه کېږدئ

| | فعالیت | یو ځل ترسره شوي | ۲ تر ۴ ځلې | تر ۵ زيات ځلې |
|---|---|---|---|---|
| 1 | وډانیز بلاکونه جوړول | | | |
| 2 | د کیسې وخت | | | |
| 3 | سندرې ویل | | | |
| 4 | د ټوکو موندنه | | | |
| 5 | د غږ انګازې لوبه | | | |
| 6 | په انځورونو بحث کول | | | |
| 7 | منظمې نمونې | | | |
| 8 | فلش کارتونه | | | |
| 9 | د کیسې تسلسل ترتیبول | | | |
| 10 | د مطابقت ورکولو لوبه | | | |
| 11 | د کیسې کڅوړه | | | |
| 12 | د حافظې لوبه | | | |
| 13 | د قافیې کڅوړه | | | |
| 14 | د کردار تمثیلول | | | |
| 15 | د شیانو طبقه بندي کول | | | |

د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا د فعاليت كتاب

# 2. د فعاليت پاڼي

د فعاليت کتاب ۱۵ فعاليتونه لري. دا سپارښتنه کېږي چې په يوه ورځ کې له ۲ څخه زيات فعاليتونه مه ترسره کوئ. هره د فعاليت پاڼه دا شيان لري:

- د فعاليت ګڼه او نوم
- د فعاليت لپاره اړين توکي
- تعقيبي ګامونه
- لارښودونکي انځورونه



# 3. نمونه يي توكي (سرچينې)

له مشخصو فعاليتونو سره نمونه يي توكي چمتو كړای شوي دي. دا توكي مستقيماً كارول كېدای شي، يا تاسې كولای شئ د خپلې خوښې توكي وكاروئ.


## قافيې/شعرونه




## كيسه




## فلش كارتونه



# 4. د سر ته رسوني تصديقپاڼه




د ټولو فعاليتونو سر ته رسولو وروسته، خپل ځان ته د دې تصديقپاڼې د ورکولو له لارې خپل ماشوم لپاره د ماشومتوب د ابتدايي دورې پراختيا په تسهيلولو کې د خپلې لاسته راوړنې اعتراف وکړئ.



د والدینو لارښودونه

# 1. زده کړه ییزې لاسته راوړنې

د ټولو ۱۵ فعالیتونو لپاره، ستاسې ماشوم به:

| د فعالیت نوم | زده کړه ییزه لاسته راوړنه |
|---|---|
| ودانیز بلاکونه جوړول | د اندازو او موقعیتونو ځانګړې پوهه او د ستونزو د هوارې مهارتونه لاسته راوړي |
| د کیسې وخت | د کلمو قافیو ته غوږ نیسي، د خبرې تاثرات او د غږ لوړتیا او ځوړتیا مشاهده کوي – چې د لوستلو مهارتونو ته وده ورکوي. |
| سندرې ویل | د مانا درلودونکې کلمې زده کوي (د کرښو پر متن) او د ساز/تال پوهه لاسته راوړي. |
| د توکو موندنه | د اورېدو او مشاهدې مهارتونه لاسته راوړي او په سالم فزیکي فعالیت کې ګډون کوي |
| د غږ انګازې لوبه | د غږونو ته غوږ نیسي او ترمنځ یې توپیر پېژني چې له هغوی سره د لوستلو او اورېدلو مهارتونو په وده کې مرسته کوي. |
| په انځورونو بحث کول | خپله د کلمو زېرمه جوړوي، خپل تصور کاروي او له کتابونو او کیسو سره اړیکې جوړوي. |
| منظمې نمونې | خپله لنډمهاله او اوږدمهاله حافظه پیاوړې کوي چې له هغوی سره د تورو، کلمو، او کیسې په یاد ساتلو کې مرسته کوي. |
| فلش کارتونه | متن پېژني او دا پوهېږي چې متن مانا لري. |
| د کیسې تسلسل ترتیبول | د یوې کیسې پیل، منځ او پای زده کوي او په یاد یې راولي. |
| د مطابقت ورکولو لوبه | مشابه (ورته) شکلونه په ګوته کوي چې د لیکلو مهارتونو پراختیا کې مرسته کوي. |
| د کیسې کڅوړه | له کیسو او کردارونو سره د تعامل لپاره له خپل تخیل څخه ګټه اخلي او د ژبې مهارتونه پیاوړې کوي. |
| د حافظې لوبه | خپل د ترتیب او تنظیم ورتیاوې پیاوړې کوي چې په راتلونکې کې د ریاضي مفاهیمو په زده کړه مرسته کوي. |

د والدينو لارښوودونه

# 2. د فعالیت لارښوودونه

د ښلا ښېلو فعالیتونو د ترسره کولو په ترڅ کې د اغېزناکه زده کړه د باوري کولو لپاره دا لارښوودونه تعقیب کړئ:




## سندرې ویل

- مخکې له دې چې خپل ماشوم ته یې وښیئ، د سندرو ویل تمرین کړئ.
- داسې سندرې انتخاب کړئ چې یادول او حرکتونه ترسره کول یې اسانه وي.
- د کورنۍ غړي وهڅوئ چې له ماشوم سره یوځای سندره ووایي.
- په ښلا ښېلو ورځو کې هماغه سندرې له هماغه حرکتونو سره ووایئ.
  *(واړه ماشومان په تکرارولو سره زده کړه کوي)*



## کیسې لوستل

- کرار کرار ولولئ او کلمې په واضحه توګه تلفظ کړئ.
- له حرکتونو او لهجې او د څېرې تاثراتو څخه ګټه واخلئ.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې ستاسې نقل وکړي.
- هماغه یوه کیسه له هماغه حرکتونو سره په ښلا ښېلو ورځو کې ولولئ.
- که تاسې له یوه کتاب څخه لولئ، کتاب داسې ځای کې ږدئ چې ستاسې د ماشوم لاسرسي ورته وي تر څو څرګندونه وکړای شي که چېرې هغوی تاسې سره کتاب لوستلو ته علاقمندي ولري.



*که چېرې ستاسې ماشوم له تاسې سره سندره ویلو یا لوستلو کې وخت نیسي، نو دا بیخي کومه د ستونزې خبره نه ده. هغوی مه مجبوروئ، خو، د فعالیت تکرارولو ته ادامه ورکړئ.*

د والدينو لارښودونه

## په فعاليتونو کې فلش کارتونه يا شيان کارول

- که اړتيا وه، يو ځل خپل ماشوم ته وښاياست چې فعاليت څنګه ترسره کېږي.
- خپل ماشوم سره په چټکۍ سره د مرستې کولو خپل خواهش مخ ونيسئ. خاموش کښېنئ او پرېږدئ چې هغوی پخپله هڅه وکړي.
- که اړتيا وه، له هغوی څخه لارښودونکې پوښتنې وکړئ خو ځوابونه ورته مه ښکاره کوئ.
- ځومره چې هغوی ډاډه کېږي، پېچلې رسمونه، کلمې، کارتونه، شيان او داسې نور شامل کړئ.
- وګورئ چې آيا ستاسې ماشوم کولای شي هماغه کلمه/انځور/شی په کتابونو يا مجلو کې پيدا کړي؟




*له خپل ماشوم سره د شمېرلو د تمرين لپاره کارتونه او شيان د هم د فرصتونو په توګه وکاروئ.*

## د کلمو زېرمه جوړول

- په هر فعاليت کې کليدي کلمې تکرار کړئ.
  *د بېلګې په ډول، په داسې حال کې چې کله ستاسې ماشوم شيان په بېلا بېلو شکلونو کې طبقه بندي کوي، هر ځل د شکل نوم واخلئ.*
- ماشوم وهڅوئ چې کلمې تاسې پسې تکرار کړي.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې خبرې وکړي او په مکالمو کې ګډون وکړي.
- لوستل د خپل ورځنې معلوم برخه وګرځوئ. د لارښودونکو پوښتنو کولو لپاره په بېلا بېلو ځايونو کې تم شئ لکه "دا څه دي؟" "بيا څه کېږي؟" او داسې نور.




*په ډېرو معلوماتو سره په خپل ماشومان فشار مه راوړئ. په ۲ –۳ کليدي کلمو باندې چې تاسې غواړئ هغوی يې هره ورځ زده کړي، تمرکز ولرئ. د خپل ماشوم عمر او د هغوی د زده کړې ورتيا ته پام وکړئ. هغوی د غږونو او تکرار په مرسته زده کوي او په ليکل کولو باندې بايد په دې عمر کې ټينګار و نه شي.*

# 3. د والدينو ذهنيت

مخکې له دې چې تاسې د ماشوم د ابتدايي دورې د پراختيا سفر پيل کړئ، لاندې ځينې لارښودونه دي چې په ذهن کې يې بايد وساتئ.



## تمرين ته لومړيتوب ورکړئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسې ماشوم هره ورځ لږ تر لږه ۱ ساعت فزيکي فعاليت ترسره کوي.



## خلاقيت وهڅوئ.

خپل ماشوم لپاره د لوبو يو خوندي ځای برابر کړئ. که ممکن وي، خوندي وسايل لکه رنګه مومي توکي، خاوره (يا خميره وره)، د يو بل د پاسه ايښودل کېدونکي شيان، زړې ورځپاڼې، او داسې نور، چمتو کړئ تر څو هغوی خپل خلاقيت څرګند کړي.



## کنجکاوي/لېوالتيا منځته راوړئ.

د لوبې په جريان کې، ماشومان نوي احساسات، مفکورې او مهارتونه کشفوي. د هغوی پوښتنې په ساده تشرېحاتو سره ځواب کړئ. هغوی ته مه وايئ چې غلې شئ.

## عملي زده کړه وهڅوئ.



خپل ماشوم په ورځنیو کارونو، لکه پخلی او صفايي کول، کې شامل کړئ. هغوی سره مرسته وکړئ چې له هغه څه سره اړیکه منځته راوړي چې هغوی يې په خپلو فعالیتونو کې زده کوي.

## د ودې-ذهنیت ته پراختیا ورکول.



د نهايي کار پر ځای د ماشوم د هلو ځلو ستاینه وکړئ.

***بېلګه:*** *"تا د دې شي په جوړولو کې سخته خواري کړې. افرین!" د دې پر ځای "دا قلعه تر ټولو ښایسته شی دی چې ما کله لیدلی دی."*

له سختي ژبې کارولو څخه ډډه وکړئ. کله چې هغوی یوې ستونزې سره مخ شي، مداخله مه کوئ. هغوی پرېږدئ چې پخپله د ستونزې د هوارولو لپاره نوي طریقې وازمايي.

## مسئوولیت منځته راوړئ



د بېلګې لپاره، ستاسې ماشوم د فعالیت وروسته خپل د لوبو وسایل راټولولو کې مرسته کولای شي. سربېره، خپل ماشوم سره د ورځني معمول په تعقیبولو کې مرسته او د هغوی د هلو ځلو ستاینه وکړئ.

**د لوستلو نورې مواد:** https://www.who.int/publications/i/item/97892400020986